د عامې روغتیا وزارت

لومړی پړاو - شپږمه ګڼه

۱۴۴۷-۰۴-۰۹



# د عامې روغتیا وزارت اوونیزه!

## (پرلیکه خپرونه)

د روغتیا نړیوال سازمان د ختیځې مدیترانې حوزې د سیمه ییز دفتر له یو شمېر غړو سره د عامې روغتیا وزارت د رهبرۍ ناسته!

یو شمېر ولایتونو کې روغتیایي کارکونکو ته د روزنیزو برنامو ترسره کېدل!

لغمان ولایت کې د راټولو شویو ۳۰ ټنو بې کیفیته خوراکي او له نیټې تېرو درملو له منځه وړل!

له یو شمېر خصوصي روغتیایي مرکزونو څخه د ګډ نظارت ترسره کېدل!

د زابل عامې روغتیا ریاست سره د سل زره ډالرو په ارزښت د طبي وسایلو مرسته

دویاند دفتر، اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# د هېواد له خصوصي روغتیايي مرکزونو څخه د نظارت پیل شوې لړۍ دوام لري!

د نظارت یاده لړۍ د عامې روغتیا وزارت د طبي شورا لوی رئیس، ډاکټر فقیر محمد زیار په مشرۍ د یوې باصلاحیته کمېټې له لوري پیل شوې ده، چې موخه یې د هېواد په خصوصي روغتیايي مرکزونو کې د بهرنیو او داخلي ډاکټرانو، نرسانو او نورو روغتیايي کارکوونکو شتون، د فعالیت تنظیم، تحصیلي اسنادو، جوازونو او د اقامت سندونو څېړل دي، چې د سرغړونو په صورت کې به قانوني اقدامات تر سره کېږي. د نظارتونو یاده لړۍ چې څه موده وړاندې پیل شوې ده، پر دوام یې له هندوستان طبي لابراتوار، د بستر ځوان معالجوي، نګین آسیا، ساجد بارکزي، مکروریان، صفا مروا اماني، مسلم، غازي محمد عثمان، او حنظله روغتونونو څخه نظارت ترسره شو، چې پایله کې یې حنظله روغتون د روغتیايي قوانینو څخه د سرغړونې او جواز نه شتون له امله وتړل شو او اړوندو مسؤلینو ته د باکیفیته تخصصي او معیاري خدماتو وړاندې کولو په موخه لازمې سپارښتنې وشوې؛ ترڅو د هېواد په کچه د روغتیايي خدمتونو کیفیت لوړ او ناروغانو ته لازم روغتیايي خدمات وړاندې شي. د یادونې وړ ده، چې دغه نظارتي بهیر به ډېر ژر د هېواد په نورو ولایتونو کې هم د روغتیايي قوانینو د تطبیق په موخه عملي شي او د مسؤلینو له لوري به له سرغړونکو سره قانوني چلند ترسره کېږي؛ څو د خصوصي روغتیايي مرکزونو فعالیتونه د عامې روغتیا وزارت له پالیسۍ سره سم ترسره او د خلکو روغتیا خوندي شي.



## The Ongoing Supervision of the Country's Private Health Centers Continues.

Led by Dr. Faqir Mohammad Ziyar, Director General of the Ministry of Public Health's Medical Council, an authorized committee is inspecting private health centers to verify the presence of foreign and domestic doctors, nurses, and other staff, review activity regulations, educational certificates, licenses, and residency documents. Legal action will be taken if violations are found. The supervision, which began some time ago, has included inspections of India Medical Laboratory, Zawan Curative Clinic, Negin Asia, Sajid Barakazi, Macroryan, Safa Marwa Amani, Muslim, Ghazi Mohammad Osman, and Hanzala hospitals. As a result, Hanzala hospital was closed for health law violations and lack of license. Officials received recommendations to improve the quality of specialized and standard services, aiming to enhance health service quality nationwide. This supervisory process will soon expand to other provinces to enforce health laws. Legal measures will be taken against violators to ensure private health centers operate according to Ministry of Public Health policies and protect public health.



## د اکمال تخصص لوی ریاست عملیاتي ریاست د شهید سردار محمد داود خان تخصصي روغتون کې د اکمال تخصص برنامې څخه نظارت تر سره کړ

د دې نظارت موخه د اکمال تخصص برنامې معیاري کول دي؛ ترڅو په تخصصي روغتونونو کې د اکمال تخصص عملیاتي ریاست د چمتو شوي چک لیست سره سم د موضوعاتو اهمیت او د نصاب پلي کولو ته Logbook، bedside teaching ،Morning report، Morning visit ) Case presentation ) د استادانو لکچرونو، د استادانو او ټرینیانو کنفرانسونو، د عملي پروسیجرونو پلي کولو او د تخصص پروګرام نورو اړوندو موضوعاتو ته جدي پاملرنه وشي. د یادونې وړ ده، چې د نظارت دا لړۍ به د شهید سردار محمد داود خان روغتون کې د څلورو ورځو لپاره دوام وکړي او دا پروسه د مرکز او ولایتونو په ټولو تخصصي روغتونونو کې هم د پلي کېدو وړ ده.

## ریاست عملیاتی ریاست عمومی اکمال تخصص، از پیشبرد برنامه اکمال تخصص، در شفاخانه تخصصی شهید سردار محمد داود خان نظارت نمود.

هدف از این برنامه معیاری ساختن برنامه اکمال تخصص است تا در موارد اهمیت موضوعات و تطبیق کریکولوم از جمله Logbook، bedside teaching ،Morning report، Morning visit، Case presentation لکچر استادان، کنفرانس های استادان و ترینی ها اجرای پروسیجرهای عملی و موضوعات مرتبط دیگر برنامه تخصص ) در شفاخانه های تخصصی مطابق چک لیست های ترتیب شده ریاست عملیاتی اکمال تخصص توجه جدی صورت گیرد، که این موضوع در ارتقاء سطح دانش و توانایی مسلکی داکتران (ترینر و ترینی) نقش اساسی دارد. قابل یاد ذکر است که این برنامه، به مدت چهار روز در شفاخانه شهید سردار محمد داود خان ادامه خواهند داشت و در تمام شفاخانه های تخصصی مرکز و ولایات این روند نیز قابل تطبیق می باشد.

## The Operations Directorate of the General Directorate of Specialization Programs inspected the specialization program at Shaheed Sardar Mohammad Dawood Khan Specialized Hospital.

The purpose of this monitoring is to standardize the specialty program, ensuring that proper attention is given to its key components and the implementation of the curriculum—including the logbook, bedside teaching, morning reports, morning rounds, case presentations, lectures by instructors, teacher-trainee conferences, practical procedures, and other related topics— in accordance with the checklist prepared by the Specialty Operations Directorate for specialized hospitals. Notably, this series of monitoring will continue for four days at Shaheed Sardar Mohammad Dawood Khan Hospital, and the same process can be implemented in all specialized hospitals in the capital and provinces.




## د پکتیا ولایت د عامې روغتیا ریاست په تالار کې د HMIS سیستم شل تنه مسؤلینو ته د DHIS2 سیستم د اغېزمنې کارونې په موخه ۳ورځنۍ ټرینګ وړکړل شو

یاد ټرینګ د عامې روغتیا وزارت د څارنې، پلټنې او روغتیايي معلوماتو لوی ریاست له لوري د پکتیا، پکتیکا، خوست او لوګر ولایتونو د عامې روغتیا او تطبیقوونکو مؤسسو د HMIS سیستم شل تنه مسؤلینو ته د DHIS2 سیستم د اغېزمنې کارونې، د معلوماتو کیفیت ساتلو، د ارقامو تحلیل او تجزیې او د کارونکو د حسابونو بیا کتنې په موخه ترسره شو، چې په کې د HMIS سیستم تخنیکي ټرینرانو د معلوماتو د غوره مدیریت، په دقیق ډول د کړنو راپور ورکولو او د ارقامو شننې برخه کې خپل چمتو کړي موضوعات په عملي او نظري ډول ګډونوالو ته وړاندې کړل. د یادونې وړه ده، چېDHIS2یو پراخه معلوماتي سیستم دی او د روغتیايي معلوماتو د مدیریت لپاره کارول کیږي دا سیستم په ځانګړې توګه د ټولنې او روغتیايي مرکزونو څخه د معلوماتو راټولولو، ذخیره کولو، تحلیلولو او شریکولو لپاره ډیزاین شوی دی، چې د معلوماتو مدیریت او خوندي ساتلو لپاره په نړیواله کچه هم کارول کېږي.

## A Three-Day Training on the Effective Use of the DHIS2 System Conducted for 20 HMIS Staff Members at the Auditorium of the Paktia Provincial Public Health Directorate.

The training was organized by the Directorate General of Monitoring, Audit, and Health Information of the Ministry of Public Health for twenty HMIS staff members from public health and implementing organizations in Paktia, Paktika, Khost, and Logar provinces. Its aim was to strengthen the effective use of the DHIS2 system, ensure data quality, analyze and interpret data, and review user accounts. During the training, HMIS technical trainers delivered both practical and theoretical sessions covering improved data management, accurate performance reporting, and data analysis. It is worth noting that DHIS2 is a comprehensive information system used to manage health data. The system is specifically designed to collect, store, analyze, and share data from communities and health centers and is also used internationally.

## جوزجان، پکتیا، دایکندي، فراه او ننګرهار ولایتونو کې له یو شمېر روغتیایي مرکزونو، درملتونونو او د درملو عمده پلورنځیو څخه نظارت ترسره شو.



دغه نظارت د عامې روغتیا ریاستونو د څارنې او پلټنې مسؤلینو له لوري ترسره شو، چې پایله کې یې جوزجان ولایت کې ۴۷ قلمه له نېټې تېر درمـل، پکتیا ولایت کې هم شاوخـوا ۴۷ قلمه له نېټې تېر درمل، دایکـندي ولایت کې ۵۰ قـلمه له نـېټې تېر درمل، فــراه ولایت کې هـم ۵۰ قلمه له نېټې تېر درمل راټول او د له منځه وړلو په موخه ټاکل شویو ځایونو ته ولېږدول شول. همداراز، فراه ولایت کې دوه درملتونونه او یوه اکسری خونه او ننګرهار ولایت کې یو روغتیایي مرکز له روغتیایي قوانینو څخه د سرغړونې له امله وتړل شول؛ ترڅو د بې کیفیته او غیر معیاري خدماتو مخنیوی وشي.

## Inspections Conducted at Several Health Centers, Pharmacies, and Wholesale Drug Stores in Jawzjan, Paktia, Daikundi, Farah, and Nangarhar Provinces.

The monitoring was carried out by the monitoring and inspection officials of the Public Health Directorates. As a result, 47 items of expired medicines were collected in Jawzjan province, about 47 items of expired medicines in Paktia province, 50 in Daikundi province, and 50 in Farah province. All the medicines confiscated were sent to warehouse for destruction. Additionally, two pharmacies and an X-ray room in Farah province, as well as a health center in Nangarhar province, were closed for violating health regulations in order to prevent the provision of poor-quality and substandard services.

## لغمان ولایت کې ۳۰ ټنه له نېټې تېر، بې کیفیته توکي او درمل له منځه یوړل شول.



یاد توکي او درمل چې تخمیني ارزښت یې (۵۵۷۱۲۹۱) افغانۍ ټاکل شوی دی، د لغمان ولایت د عامې روغتیا ریاست د څارنې او پلټنې مسؤلینو له لوري د تېرو شپږو میاشتو په موده کې راټول شوي وو، چې د عامې روغتیا ریاست او یو شمېر نورو مسؤلینو په شتون کې له منځه یوړل شول. د لغمان د عامې روغتیا رئیس، ډاکټر سمیع الله عابد نیازي وویل، د څارنې او پلټنې مسؤلین به خپلو دوامدارو فعالیتونو ته دوام ورکوي او د هر ډول بې کیفیته او له نېټې تېرو درملو، خوراکي توکو او نورو مضرو موادو مخنیوی به کوي؛ ترڅو د خلکو روغتیا خوندي شي.

## 30 Tons of Expired and Substandard Goods and Medicines Disposed of in Laghman Province

The mentioned goods and medicines, with an estimated value of 5,571,291 Afghanis, had been collected over the past six months by the monitoring and inspection officials of the Laghman Provincial Public Health Directorate. They were disposed of in the presence of the Public Health Directorate and several other officials. Dr.Samiullah Abid Niazi, Director of Laghman Public Health, stated that monitoring and inspection officials will continue their ongoing activities to prevent the sale of any substandard or expired medicines, food, and other harmful substances in order to protect public health.

## د زابل ولایت د عامې روغتیا ریاست سره سل زره امریکایي ډالره په ارزښت د طبي وسایلو مرسته وشوه.




یاده مرسته د زابل عامې روغتیا ریاست اړوند MOVE تطبیقوونکې مؤسسې سره د یونیسف ادارې له لوري د روغتیایي خدماتو پیاوړتیا په موخه وشوه، چې د ولایت په کچه به ۴۷ روغتیایي مرکزونو ته وویشل شي.

## به ارزش ۱۰۰هزار دلار امریکایی تجهیزات طبی به ریاست صحت‌عامه زابل کمک شد.

این کمک به همکاری اداره یونیسف، از طریق موسسه تطبیق کننده MOVE به ریاست صحت‌عامه زابل به خاطر تقویت خدمات صحی اهدا شد، که قرار است به ۴۷ مرکز صحی در سطح این ولایت توزیع شود.

## Medical Equipment Worth $100,000 Donated to the Public Health Directorate of Zabul Province.

This aid was provided by UNICEF to the MOVE implementing organization of the Zabul Public Health Directorate to strengthen health services and will be distributed to 47 health centers across the province.



## د ا.ا.ا د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني د روغتیا نړیوال سازمان د ختیځې مدیترانې حوزې د سیمه ییز دفتر له یو شمېر غړو سره ناسته ترسره کړه.

په دې ناسته کې د روغتیایي ارقامو د جریان ارزونې، د اړوندو برخو د ښکیلتیا کچې، د ارقامو اړوند حکومت دارۍ او تخنیکي تشو پېژندنې، د روغتیایي سیستمونو د ادغام پروسې ملاتړ او د ارقامو د برېښنایي کېدو په اړه بحث او خبرې ترسره شوې. د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني روغتیایي ارقام او شواهد د روغتیایي پالیسۍ جوړلو او پرېکړو کولو کې مهم وبلل او په دې برخه کې یې پر لا زیاتو هڅو ټینګار وکړ؛ ترڅو د ارقامو دقت او اعتبار خوندي شي. د یادونې وړ ده، د عامې روغتیا وزارت په پام کې لري، چې په اړوند ذکر شویو برخو کې د کاري شریکانو او تمویلوونکو ادارو سره د یوې منظمې همغږۍ او میکانیزم له لارې فعالیتونه ترسره او ټاکل شوې موخې تر لاسه کړي.




## د عامې روغتیا وزارت له لوري د زړه ناروغیو په اړه د عامه پوهاوي غونډه ترسره شوه.

په دې غونډه کې د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د وزارت مرکزي رئیسانو، د روغتیا نړیوال سازمان او رسنیو استازو ګډون کړی و، چې په کې د زړه ناروغیو د کنټرول او مخنیوي په اړه هر اړخیزې ویناوې ترسره شوې. د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني د زړه ناروغیو د کنټرول او مخنیوي لپاره سالم عادتونه، د طبي خوړو استعمال او له نشه يي توکو څخه ډډه کول، اړین وبلل او ویې ویل: ( عامې روغتیا وزارت د هېواد په کچه د زړه ناروغیو د کنټرول او مخنیوي لپاره دوامداره هڅې کوي، چې په دې برخه کې د عامه پوهاوي پروګرامونه هم شامل دي). همدارنګه، د عامې روغتیا وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس، شیخ محمد طاهر حلیم د اسلام مبارک دین له نظره د زړه د ارزښت او اهمیت په اړه هر اړخیزه وینا تر سره او ګډونوالو ته يې د زړه سالم ساتلو اړوند معلومات ورکړل. دغه راز، د عامې روغتیا وزارت د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي لوی رئیس، ډاکټر حیدر خان حیدر وویل، د زړه د اتیا سلنه ناروغیو کنټرول او مخنیوی د وقایې له لارې کېږي؛ نو په همدې اساس باید د خوراکي توکو استعمال کې احتیاط وشي، د زیاتې مالګې، بورې او غوړو له کارولو څخه ډډه وشي. بل لور، د روغتیا نړیوال سازمان استازي، ډاکټر عبدالوهاب هم د زړه ناروغیو د مخنیوي په اړه وینا ترسره او په نړیواله کچه يې غیري ساري ناروغۍ اوس هم د مړینو اصلي علتونه وبلل او زیاته يې کړه، چې د زړه ناروغیو له امله هر کال په نړیواله کچه ۱۸ میلیونه انسانان خپل ژوند له لاسه رکوي، چې د دې کچې د راټیټولو لپاره باید د عامه پوهاوي پروګرامونه لا زیات شي.

## وزارت صحت‌عامه نشست آگاهی‌دهی‌عامه را در مورد بیماری‌های قلبی برگزار کرد.

این نشست که با حضور محترم مولوی عبدالولی حقانی معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت‌عامه، رییسان مرکزی این وزارت، نماینده گان سازمان صحی جهان و رسانه‌ها برگزار شد، در مورد جلوگیری و کنترول بیماری‌های قلبی سخنرانی‌های همه‌جانبه صورت گرفت. محترم مولوی عبدالولی حقانی معین عرضه خدمات صحی، داشتن عادت‌های سالم، استفاده از غذای صحی و دوری از مواد مخدر را برای جلوگیری از بیماری‌های قلبی ضروری دانست و گفت:« وزارت صحت‌عامه در سطح کشور تلاش‌های دوامداری را برای کنترول و وقایه بیماری‌های قلبی انجام می‌دهد که برنامه‌های آگاهی‌دهی‌عامه نیز شامل آن می‌شود.» همچنان شیخ محمد طاهر حلیم رئیس عمومی دفتر مقام وزارت، از دیدگاه دین مقدس اسلام درباره ارزش و اهمیت قلب صحبت کرد و به شرکت‌کننده گان معلومات مفیدی را درباره حفظ سلامت قلب ارائه کرد. در ادامه این نشست همچنان، داکتر حیدر خان حیدر، رئیس عمومی کنترول و وقایه امراض، گفت:« ۸۰ درصد بیماری‌های قلبی از طریق وقایه قابل پیشگیری هستند، بنا برین باید در مصرف غذا احتیاط شود و از استفاده بیش از حد نمک، شکر و روغن جلوگیری گردد.» از سوی‌هم داکترعبدالوهاب نماینده سازمان صحی جهان نیز، در مورد جلوگیری از بیماری های قلبی سخنرانی نموده و با اشاره به این که بیماری‌های غیر ساری هنوز هم علت اصلی مرگ ومیر در سطح جهان هستند، افزود، سالانه ۱۸ میلیون تن در جهان به دلیل بیماری‌های قلبی جان خود را از دست می‌دهند که برای کاهش این میزان باید برنامه های آگاهی دهی افزایش یابد.

## د (MDR-TB) د رامنځته کېدو اسباب


رنځورمل دوکتور صباح الدین سبا


نری رنځ (Tuberculosis, TB) د نړۍ له تر ټولو جدي ساري ناروغیو څخه دی.

د Anti-TB درملو د پراختیا وروسته د TB په درملنه کې مهم پرمختګ وشو، خو د وخت په تېرېدو سره داسې ډولونه منځ ته راغلل چې د لومړۍ کرښې درملو (First-line drugs) په وړاندې مقاوم شول.

### د(MDR-TB) Multidrug-resistant TB تعریف داسې کېږي:

د M. tuberculosis مقاومت دوه مهمو لومړۍ کرښې درملو (Rifampicin او Isoniazid) په وړاندې.

MDR-TB یوه لویه نړیواله ستونزه ده ،چې د درملنې وخت زیاتوي، لګښتونه لوړوي او د ناروغانو د مړینې کچه لوړه ساتي.

### د MDR-TB د رامنځته کېدو اسباب:

#### 1. د درملنې اړخونه:

1. د درملنې نیمګړتیا (Incomplete treatment)

- ناروغ بشپړ کورس نه اخلي.
- د درملو پرېښودل د څو میاشتو وروسته.

2. د درملو ناسم استعمال:

- د غلط رژیم انتخاب (د WHO لارښود ته پام نه کول).
- د درملو ناسم خوراک(Dose)
- ټیټ کیفیت او جعلي درمل.(Substandard or counterfeit drugs)

3. د درملنې د پروګرام ضعف:

- د ناروغانو نه څارنه.(Poor DOTS implementation)
- د درملو کمښت یا ناسم مدیریت.

#### 2. د ناروغ اړخونه:

1. په منظمه توګه د درملو نه استعمال: (Poor adherence)

- د اوږدې درملنې ستړیا (٦ میاشتې یا زیات).
- د هراړخېزو عوارضو له امله د درملو پرېښودل.
- د بې سوادۍ، فقر او د روغتیایي پوهاوي ټیټوالی.

2. هم مهاله ناروغۍ: (Comorbidities)

- HIV/AIDS د معافیت کمښت له امله د TB درملنه ستونزمنوي.
- Diabetes mellitus د درملنې اغیز کموي.
- Malnutrition د معافیتي ځواب کمزوري کوي.

3. اجتماعي او اقتصادي ستونزې:

- فقر، د روغتیایي خدمتونو نشتوالی.
- د کډوالۍ او جګړو سیمي.

ادامه...

### 3. د بکتریا اړخونه:

1. طبيعي مقاومت (Natural resistance) : ځيني bacilli د طبيعي ډول متفاوته جنيټيک ځانګړتيا لري.
2. جنيټيک بدلونونه: (Genetic mutations) د Rifampicin او Isoniazid په مقاومت کې د gene mutation ځانګړې رول لري.
   - rpoB gene mutation د Rifampicin مقاومت
   - katG او inhA mutations د Isoniazid مقاومت
3. Selection pressure : ناکافي درملنې په پايله کې مقاوم bacilli پاتې کېږي او تکثير کوي.

### 4. د روغتيايي نظام ستونزې:

- د تشخيص ځنډ: د MDR-TB د پېژندلو لپاره پرمختللي وسايلو ته اړتيا وي (GeneXpert, Culture & DST)
- درملوته د لاسرسي نه شتون په کليوالو يا وروسته پاتې سيمو کې.
- د روغتيايي کارکوونکو کمزورې روزنه د درملنې په سمه طريقه کې.

### د MDR-TB د خپرېدو عوامل:

- د MDR-TB ناروغانو نه جلا کول ( Infection control ضعف)
- د کورنۍ غړو او روغتيايي کارکوونکو د تماس له لارې خپرېدل.
- د MDR-TB په لوړ کچه لرونکو سيمو ته سفر يا کډوالۍ.

### پايله

MDR-TB د TB د مديريت يوه جدي نړيواله ننګونه ده، چې د ناروغ، بکتريا، درملنې او روغتيايي سيستم له ګډو عواملو څخه منځ ته راځي، چې د مخنيوي لپاره يې بايد:

- د درملنې بشپړ کورس تطبيق شي.
- د DOTS پروګرام پياوړی وساتل شي.
- د لوړ کيفيت درمل برابر شي.
- د ناروغانو د پوهاوي او ملاتړ پروګرامونه پلي شي.
- د MDR-TB د تشخيص لپاره پرمختللي وسايل وکارول شي.

### ماخذونه : (References)


1. World Health Organization. Global Tuberculosis Report 2024.
2. Gandhi NR, et al. Multidrug-resistant and extensively drug-resistant tuberculosis: a threat to global control of tuberculosis. Lancet. 2010.
3. Zhang Y, Yew WW. Mechanisms of drug resistance in Mycobacterium tuberculosis. Int J Tuberc Lung Dis. 2009.
4. Seung KJ, et al. The treatment of drug-resistant tuberculosis: a review. N Engl J Med. 2015.




## د ۱.۱.۱ د عامې روغتیا وزارت له لوري د شري ناروغۍ مخنیوي په موخه د واکسیناسیون ملي کمپاین پرانیست غونډه ترسره شوه.

په دې غونډه کې چې د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مرستیال ښاغلي قدرت الله جمال، د عامې روغتیا وزارت مرکزي رئیسانو، د روغتیا نړیوال سازمان، یونیسف اداري او رسنیو استازو ګډون کړی و ، د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني د شري ناروغۍ مخنیوي په موخه د واکسیناسیون پر غوره تطبیق ټینګار وکړ ، له علماء کرامو او عامو خلکو څخه یې وغوښتل، چې د واکسین په تطبیق کې له تطبیقوونکو سره همکاري وکړي. دغه راز، ښاغلي مرستیال د روغتیا برخه کې د نړیوالو کاري شریکانو له همکاریو څخه د مننې ترڅنګ د لا زیاتو همکاریو غوښتنه وکړه او زیاته یې کړه، د روغتیا برخې مسؤلین او کارکوونکي توانېدلي، چې هېواد کې د شري ناروغي تر ډېره کنټرول او په دې برخه کې د پام وړ پرمختګ کړي. همداراز، د عامې روغتیا وزارت د وقایوي طب لوی رئیس، ډاکټر حیدر خان حیدر وویل، دغه کمپاین به په ټول افغانستان کې په دوو پړاوونو کې تطبیقېږي؛ ترڅو د ناروغیو مخه ونیول شي او د خلکو روغتیا خوندي شي. همدارنګه، د عامې روغتیا وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس، شیخ محمد طاهر حلیم د اسلام مبارک دین له نظره د معافیت او وقایې په اړه هر اړخیزه وینا ترسره کړه او ګډونوالو ته یې د وقایې ارزښت روښانه کړ. ورته مهال، د ملي کتلوي معافیت امر ډاکټر عبدالحکیم همت وویل، هغه ماشومان چې د شري ناروغۍ پر وړاندې نه وي واکسین شوي، زیات احتمال شته چې په دې ناروغۍ اخته شي او د ماشومانو له پلرونو او میندو یې وغوښتل، چې خپل ماشومان په یاد کمپاین کې واکسین کړي؛ ترڅو له دې خطرناکې ناروغۍ څخه خوندي پاتې شي. بل لور، د روغتیا نړیوال سازمان او یونیسف اداري استازو وویل، د دغه کمپاین د مؤثریت لپاره لازمه ده، چې ټولو ماشومانو ته رسېدنه وشي او زیاته یې کړه، د عامې روغتیا وزارت له پالیسۍ سره سم به خپلو فعالیتونو او همکاریو ته دوام ورکړي. د یادونې وړ ده، چې د شري ناروغۍ مخنیوي په موخه د واکسیناسیون ملي کمپاین به په ټول هېواد کې په دوو پړاوونو کې تطبیق شي، چې لومړي پړاو کې یې ۱۷ ولایتونه (کابل، بلخ، بدخشان، تخار، پنجشیر، لوګر، پکتیا، میدان وردګ، غزني، پکتیکا، دایکندي، غور، فاریاب، بادغیس، بغلان، بامیان، سرپل) او دوهم پړاو کې یې پاتې ۱۷ ولایتونه شامل دي، چې له شپږو میاشتو څخه تر لس کلونو عمر لرونکي ماشومان به ورکې واکسین شي.

## وزارت صحت‌عامه ا.ا.ا به خاطر جلوگیری از بیماری سرخکان، نشست افتتاحیۀ کمپاین ملی واکسیناسیون را برگزار کرد.

در این نشست محترم مولوی عبدالولی حقانی، معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت‌عامه، محترم قدرت‌الله جمال معین وزارت اطلاعات و فرهنگ، رئیسان مرکزی وزارت صحت‌عامه، نماینده‌گان سازمان صحی جهان، اداره یونیسف و رسانه‌ها اشتراک داشتند. محترم مولوی عبدالولی حقانی، معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت‌عامه، بر تطبیق بهتر واکسین به خاطر جلوگیری از بیماری سرخکان تأکید کرد و از علمای کرام و مردم عام خواست تا در روند تطبیق واکسین با تطبیق‌کننده گان همکاری نمایند. همچنان، محترم معین عرضه خدمات صحی، ضمن قدردانی از همکاری‌های شرکایی بین‌المللی در بخش صحت، خواستار همکاری‌های بیشتر شد و افزود، که مسوولان و کارمندان بخش صحت توانسته‌اند بیماری سرخکان را در کشور تا حد زیادی مهار کنند و در این زمینه پیشرفت‌های قابل ملاحظه‌ای به‌دست آورند. از سوی‌هم، داکتر حیدر خان حیدر، رئیس عمومی طب وقایوی وزارت صحت‌عامه گفت:« این کمپاین در سراسر افغانستان در دو مرحله تطبیق می‌گردد تا از بیماری‌ها جلوگیری شده و صحت مردم تأمین گردد». در ادامه این نشست، شیخ محمد طاهر حلیم، رئیس عمومی دفتر مقام وزارت صحت‌عامه، از دیدگاه دین مقدس اسلام در مورد مصوونیت و وقایه سخنرانی همه جانبه نموده و ارزش وقایه را برای اشتراک‌کننده‌گان روشن ساخت. علاوه بر آن، داکتر عبدالحکیم همت، آمر معافیت کتلوی ملی گفت: « کودکانی که در برابر بیماری سرخکان واکسین نشده باشند، احتمال بیشتری دارد که به این بیماری مبتلا شوند. او از پدران و مادران خواست تا فرزندان‌شان را در این کمپاین واکسین کنند تا از این بیماری خطرناک محفوظ بمانند.» از سوی‌هم، نماینده‌گان سازمان صحی جهان و اداره یونیسف گفتند: برای مؤثریت این کمپاین لازم است که به تمام کودکان دسترسی حاصل شود. آنان افزودند که مطابق به پالیسی وزارت صحت‌عامه، به فعالیت‌ها و همکاری‌های خود ادامه خواهند داد. قابل ذکر است که کمپاین ملی واکسیناسیون برای جلوگیری از بیماری سرخکان در سراسر کشور در دو مرحله تطبیق می‌شود که در مرحله نخست، ۱۷ ولایت (کابل، بلخ، بدخشان، تخار، پنجشیر، لوگر، پکتیا، میدان وردک، غزنی، پکتیکا، دایکندی، غور، فاریاب، بادغیس، بغلان، بامیان و سرپل) و در مرحله دوم، ۱۷ ولایت باقی‌مانده شامل می‌گردد که کودکان شش‌ماه تا ده‌ساله در آن واکسین خواهند شد.



## د ا.ا.ا. روغتیایي اتشې، متخصص دوکتور فضل‌الله سیرت، د ترکیې د روغتیا وزارت د اروپايي ټولنې او بهرنیو اړیکو له لوی رئیس، ډاکټر عزیز البر بیتن سره لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې د روغتیا وزارت د افریقا او منځني ختیځ رئیس، ډاکټر جمال ارهون اجمیش او د اروپايي ټولنې کارپوه، ښاغلی ایشک خان کایا هم ګډون درلود. دوکتور سیرت د ناستې په پیل کې د افغانستان د خلکو په استازیتوب د ترکیې له مرستو او همکاریو څخه، په ځانګړې توګه د بېړنیو حالاتو لکه زلزلو پر مهال، مننه او قدرداني وکړه او دغه همکارۍ یې د دواړو هېوادونو د ورورګلوۍ او تاریخي اړیکو څرګندونه وبلله. د لیدنې پر مهال، دواړو لورو د روغتیایي همکاریو پر پیاوړتیا، د افغان ډاکټرانو او روغتیایي کارکوونکو د روزنې، د عامې روغتیا د پوهاوي پروګرامونو او د روغتونونو او لابراتوارونو د تجهیز پر موضوعاتو بحث او هوکړه وکړه. همدارنګه پرېکړه وشوه، چې د موجوده پروتوکول پر بنسټ، هر کال ۲۵۰ افغان ناروغان – چې درملنه یې په هېواد کې ناشونې وي – د ترکیې په روغتونونو کې وړیا تداوي شي. د ترکیې د روغتیا وزارت استازو څرګنده کړه، چې د دوی روغتیایي نظام په چټک پرمختګ روان دی او بشپړ چمتو والی لري، چې د افغانستان روغتیا وزارت سره خپلې بریالۍ تجربې شریکې کړي.



## متخصص داکتر فضل‌الله سیرت اتشه صحی ا.ا.ا، در ترکیه با داکترعزیز البر بیتن رئیس بخش اتحادیه اروپا و روابط خارجی وزارت صحت ترکیه، دیدار کرد.

در این دیدار، داکتر جمال ارهون اجمیش، رئیس بخش افریقا و خاورمیانه وزارت صحت ترکیه و محترم ایشک خان کایا، کارشناس اتحادیه اروپا نیز اشترک داشتند. در آغاز این نشست، داکتر سیرت به نماینده‌گی از مردم افغانستان، از کمک‌ها و همکاری‌های کشور ترکیه، به ویژه در شرایط اضطراری زلزله، ابراز قدردانی نمود و این همکاری‌ها را نماد روابط برادری و تاریخی میان دو کشور دانست. همچنان در جریان این دیدار، دو طرف در مورد تقویت همکاری‌های صحی، آموزش داکتران و کارمندان صحی افغان، برنامه‌های آگاهی دهی عامه در بخش صحت و تجهیز شفاخانه‌ها و لابراتوارها بحث و توافق نمودند. علاوه بر آن در این نشست تصمیم گرفته شد ،تا بر اساس پروتوکول موجود، هر سال ۲۵۰ بیمار افغان – که تداوی آن‌ها در کشور امکان‌پذیر نیست – به صورت رایگان در بیمارستان‌های ترکیه تداوی شوند. از سوی‌هم نماینده‌گان وزارت صحت ترکیه اظهار نمودند، که نظام صحی آن‌ها به سرعت در حال پیشرفت است و کاملاً آماده است تا تجربیات موفق خود را با وزارت صحت افغانستان شریک نمایند.

## د ا.ا.ا د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني د جراحانو له یو شپږ کسیز ټیم سره چې له هند او جرمني څخه افغانستان ته راغلي لیدنه تر سره کړه.

د پلاسټیک جراحۍ دا ټیم د هغه سوځېدلو ناروغانو درملنه کوي، چې په کابل کې د استقلال روغتون ته مراجعه کوي. د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني هېواد ته د پلاسټیک جراحانو ټیم د راتګ هرکلی وکړ او د استقلال ملي او تخصصي روغتون مسؤلینو ته یې لارښوونه وکړه، چې د سوځېدلو ناروغانو د درملنې لپاره دې ټیم ته ټولې اسانتیاوې برابرې کړي. سربېره پردې، ښاغلي مرستیال د استقلال روغتون له بېلابېلو څانګو څخه لیدنه وکړه، د روغتیایي کارکوونکو ستونزې یې واورېدې او د حل ډاډ یې ورکړ تر څو اړمنو کسانو ته لازم روغتیایي خدمات وړاندې شي.

## محترم مولوی عبدالولی حقانی معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت‌عامه، با یک تیم ٦ نفره از داکتران جراحی پلاستیک که از کشور هند و جرمنی به افغانستان آمده اند دیدار کرد.

این تیم جراحـی پلاسـتیک، آنعده از بیماران سوختگی را که به شـفاخانه استقـلال در کابل مراجعه می‌کنند تحت تداوی قرار می‌دهند. محترم معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت‌عامه، تشریف آوری تیم داکتران جراحی پلاستیک را به کشور خیر مقدم گفته و به مسوولان شفاخانه استقلال هدایت داد، تا همه امکانات را به خاطر تداوی بیماران سوختگی برای این تیم فراهم نمایند. علاوه بر آن محترم مولوی عبدالولی حقانی معین عرضه خدمات صحی، از بخش های مختلف شفاخانه استقلال دیدار نموده، مشکلات کارمندان صحی را شنیده و به خاطر حل، به آنان اطمینان داد، تا خدمات صحی را که نیازمندان به آن ضرورت دارند برای شان ارایه گردد.

